سلطان جان کلیوال
۲۰۱۹/۰۲/۰۱

# تــرانــه
# ته شمع زه پتنگ یم

وطنه ستا د پاره هر زور گیر سره په جنگ یم

ته شمع زه پتنگ یم

پاچا یم که گدا یم ستا د خاوری خړ ملنگ یم

ته شمع زه پتنگ یم

***

ته مور یی ته می پلار یی

ته میـــــنه ته مـی یار یـی

ته کـور ته مـی مـزاریـی

زه جوړیم ستا له کاڼوپه هرحال کی لوی ګړنگ یم

ته شمع زه پتنگ یم

***

بـی تا نه یم نیمـګړی

یو خس یم اوبـو وړی

له ژونده ستړی ستړی

بهر ستا له لمنی په دی لوی جهان کی تنگ یم

ته شمع زه پتنگ یم

***



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

## ستا نــوم افغانستان دی

## جنت نــه په ما گران دی

## د هر افغـان ایمـان دی

شپیلی داسرافیل غوندی د مستی نغمي شرنګ یم

ته شمع زه پتنګ یم

***

چی بــد و ګــوری تـاته

شی خونه به یی میراته

پـه تینـته به ځی شـاته

تاریخ د برجورو کلاګانو زوی د ننګ یم

ته شمع زه پتنګ یم

تورنتو/ کانادا ۲۰۱۹/۱/۲۹

یادونه:

که چیری گران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!